# د څېړنو په ترڅ کې د ستاسو حقونه:
## د جبري مهاجرت په حواله څېړنو کې برخه اخستونکو خلکو لپاره معلوماتي پارچه

په څېړنیزه پروژه کې برخه اخستنه د ستاسو غږ نورو ته واوروليږ شي، خو امکان شته چې اسان تمام نه شي، وخت او پیسه وغواړي، او/یا تاسو په بدني یا جذباتي ناآرامه کړي. دغه معلوماتي پارچه کې مهم اصطلاحات تشریح او د ستاسو د حقونو لنډیز ورکړل شوی.

رضاکارانه او باخبره رضایت



درضاکارانه  مطلب دی چې یواځې تاسو دا فیصله کولې شئ چې په یوه څېړنیزه پروژه کې برخه اخستل غواړئ یا نه. راځئ چې دا تشریح کړو.

د رضاکارانه معنا دا چې تاسو خپلې ازادۍ مرضۍ سره پرېکړه کوئ—چې د انکار په صورت کې هیڅ جریمه نشته او برخه اخستو ته رضا کېدو په صورت کې هیڅ لوی ګټې (لکه ډېرې پیسې) نه لري.

- که تاسو برخه اخستو څخه انکار وکړئ نو په دې بنیاد باندې څوک نشي کولې تاسو ته د څیزونو یا د خدمتونو څخه وکړل شي.
- دې پورې چې که څوک فرد، حکومتي چارواکی، یا تنظیم سپارښتنه درکړي چې تاسو په څېړنه کې برخه واخلئ، تاسو بیا هم اړ نه یاست چې برخه پکې واخلئ. که تاسو برخه وا هم نه خلئ تاسو هم هغه پخوانیو خدمتونو او د وسایلو د ترلاسي حق لرئ.

باخبره معنا دا ده چې تاسو حق لرئ چې تاسو خبر ووسئ چې څېړنه د څه په اړه ده، تاسو څخه غوښتل کیږي، او د برخې اخستنې ممکنه ګټې او خطرات څه دي.

- تاسې باید پوښتنه وکړئ چې په څېړنه به څومره وخت لګي او په دقیق ډول له تاسو څه غوښتل کیږي.
- تاسو په دې د پوهېدو حق لرئ چې څېړنه په څرنګه شریکول کیږي او تاسو د څېړنې نتایجو ته څرنګه لاسرسی لرلې شئ.
- تاسو حق لرئ چې په کومه ژبه تاسو پوهیږئ، په هم هغه کې معلومات درکړل شي. که اړتیا لرئ نو د ترجمانۍ یا د ترجمې غوښتنه هم کولې شئ.
- که پوښتنې یا اندېښنې لرئ نو څېړونکی باید ستاسو د استعمال لپاره د رابطې معلومات درکړي. که وروسته په کوم وخت غواړئ له څېړې لاس واخلئ یعني ترې ووځئ نو کولای شئ په دغه رابطه معلوماتو راړیکه ونیسئ.
- حق لرئ چې هر وخت وغواړئ پوښتنې وکړئ.


CENTRE FOR REFUGEE STUDIES
CANADIAN COUNCIL FOR REFUGEES
CONSEIL CANADIEN POUR LES RÉFUGIÉS
CARFMS/ACERMF

# د څېړنو په ترڅ کې د ستاسو حقونه

رضایت معنا داچې تاسو برخه اخستنې ته رضایت په ښکاره توګه ورکړئ.

- د ستاسو په ځای بل څوک رضایت نه شي ورکولې (علاوه له هغو چې واړه وي یا لویان وي خو ذهني صلاحیت یې محدود وي؛ په دې قضیو کې د موافقت لپاره معلومات لاندې وګورئ).
- په عمومي توګه، له تاسو غوښتل کیږي چې په یوه فورمه لاسلیک وکړئ چې وایي تاسو په دې څېړنه کې د برخه اخستو لپاره رضایت ورکړی دی. تاسو حق لرئ چې وړاندې له دې چې په فورمه باندې لاسلیک وکړئ، په دې فورمه خپلوانو، ملګرو، د مېشت سیمې کارګرانو، د ټولنې غړو، او بل هر چا سره مشوره وکړئ. څېړونکی باید تاسو ته د ستاسو لخوا د لاسلیک شوې فورمې یو نقل درکړي.
- که زیاته غوره ګڼئ نو کولای شئ یواځې شفاهي یعني زباني رضایت ورکړئ. خو دا کار تل ممکن نه وي ځکه چې دا د څېړونکي سره اړوند د څېړنو په ترڅ کې د اخلاقیاتو د هیت (Research Ethics Board یا REB) په شرایطو تکیه لري.1
- تاسو هر وخت کولې شئ له څېړنې ځان وباسئ—اړ نه یاست چې تر پایه په څېړنه کې شامل پاتې شئ. که له څېړنې د وتلو پرېکړه وکړئ، نو حق لرئ چې وغواړئ چې د ستاسو معلومات باید هیچا سره شریک نه کړای شي.
- تاسو دا هم کولې شئ چې د کومې پوښتنې یعني سوال ته د ځواب ورکولو څخه یا د څېړنې په کومه برخه کې د برخه اخستو څخه انکار وکړئ.

موافقت په دې معنا دې چې یو تن چې عمر یې له بلوغت ته نه دی رسېدلی یا یې ذهني وړتیا محدوده ده د برخه اخستو سره موافق دی. په دې قضیو کې یو والد یا والده یا سرپرست باید اجازه ورکړي چې څېړنه باید وړاندې دوام ولري. په بل عبارت، دا دواړه رضایت او موافقت ته اړتیا لري.

---

1د څېړنې اخلاقي هیت (REB) د څېړونکي په اداره کې یوه کمېټه وي چې دنده یې د څېړونکي د پروژو ازونه کول وي تر څو تضمین کړي چې په دې معلوماتي پارچه کې تشریح شوي اخلاقي اصولو باندې عمل وشي. د اخلاقي هیت REB کار دا دی چې په څېړنه کې د ستاسو حقوقو د ساتنې ته وده ورکړي.


CENTRE FOR REFUGEE STUDIES
CARFMS/ACERMF

# ښېرنو په ترڅ کې د ستاسو حقونه



د ستاسو د محرميت او رازدارۍ حق مطلب دا دی چې چې د ستاسو څرګندې اجازې پرته څېړونکی اجازه نه لري چې تاسو ته په نوم يا د ستاسو ځواب ته په نوم سره ګوته ونيسي چې دا ستاسو لخوا ورکړل شوی. څنه شيان چې بايد فکر پرې وشي:

محرميت هغه حق ته وايي چې تاسو له دخالت يا مداخلې څه آزاد ووسئ او ځان په اړه معلوماتو باندې کنټرول ولرئ.

- تاسو حق لرئ چې څېړنه بايد يو محرم او محفوظ ځای کې ترسره شي، چېرې چې د ستاسو د پېژندل کېدا امکان نه وي او نور خبر نه شي چې تاسو په څېړنه کې برخه اخلئ.
- تاسو د دې انتخاب حق لري چې آيا تاسو د څېړنې په نتايجو کې پېژندل کېدل غواړئ يا غواړئ چې په نوم وه نه پېژندل شئ. په څنه حالاتو کې څېړونکی نه شي کولې چې په څېړنه کې د ستاسو اصل نوم راولي که څه هم تاسو غواړئ چې ستاسو نوم راشي ځکه چې دې سره په به څېړنه کې هغه کسان هم وپېژندل شي چې نه غواړي وپېژندل شي.
- تاسو په دې پوهېدو حق لرئ چې د څېړنې معلومات به په څه ډول کارول کيږي.
- څېړونکي بايد په ښکاره توګه درله بيان کړي چې تاسو به د څېړنې د نتايجو په اړه معلومات څرنګه ترلاسه کولای شئ.

راز ساتنه د شخصي معلوماتو خوندي ساتنه ده.

- څېړونکی بايد د معلوماتو د محفوظ ساتنې لپاره يوه لاره يعني طريقه ولری چې نور خلک ورته لاسرسی ونلري.
- تاسو په دې د پوهېدو حق لرئ چې ستاسو معلومات به څومره وخت پورې ساتل کيږي او دا چې تاسو به ورته لاسرسی لرئ.
- څېړونکي ته حق نشته چې دا معلومات کوم دريم فريق ته ورکړي يا يې ورباندې خرڅ کړي.
- خو په څنو مواردو کې محقق اخلاقي دنده لري چې ځان ته زيان يا نورو ته د زيان په اړه معلومات اشفا کړي. د رضايت په فورمه کې د معلومات د شريکونه په حواله دا شان محدوديتونه بايد په څرګنده توګه بيان شوي وي. که څه په اړه شک لرئ، نو پوښتنه وکړئ! تاسو دا حق هم لرئ چې وغواړئ چې د ستاسو په اړه راټول کړل شويو ټولو معلوماتو څخه د ستاسو د شخصي پېژندنې معلومات حذف کړای شي (لاندې نور معلومات وګورئ).



CENTRE FOR REFUGEE STUDIES

CANADIAN COUNCIL FOR REFUGEES
CONSEIL CANADIEN POUR LES RÉFUGIÉS

CARFMS/ACERMF

# پړنو په ترڅ کې د ستاسو حقونه

- په ځنه حالاتو کې کېدای شي څېړونکی باندې لازمه وي چې د جنايي فعاليتونو يعني مجرمانه سرګرميو په اړه معلومات پوليس ته ورکړي. د رضايت په فورمه کې د معلوماتو د شريکونه په حواله دا شان محدوديتونه بايد په څرګنده توګه بيان شوي وي. که څه په اړه شک لرئ، نو پوښتنه وکړئ! تاسو دا حق هم لرئ چې وغواړئ چې د ستاسو په اړه راټول کړل شويو ټولو معلوماتو څخه د ستاسو د شخصي پېژندني معلومات حذف کړای شي.
- په انټرنټ باندې سروې ته ځواب په اړه خبر ووسئ چې د ستاسو معلوماتو په کومو کمپيوټر سرورونو باندې ساتل کيږي، لکه د امريکا متحده اياالاتو کې، د هغه ځای دولت کولای شي ستاسو معلوماتو ته لاسرسی ولري. تاسو د دې پوښتني حق لرئ چې څېړونکی به د ستاسو رازداري او محرميت به په داسې حالاتو کې په څه ډول تضمينوي.

د شخصي معلوماتو نه ښکارونه  مطلب دا دی چې د ستاسو د پېژندلو هيڅ معلومات وه نه ښکاروي، تر څو د څېړني موندني په نتيجه کې کوم برخه برخه اخستونکی پيدا کول ممکن نه وي.

- پاس بحث شويو د رازداری محدوديتونو لپاره دا يوه حل لاره ده: دا تضمينول چې د معلوماتو د راغونډول په داسې ډول ترسره شی چې هيڅوک—آن چې څېړونکی هم نه—په دې پوهه شي چې دغه معلومات سره څوک تړاو لري.
- که د ستاسو د مهاجرت حيثيت لا قانوني شوی نه دی، نو تاسو بايد له څېړونکي پوښتنه وکړئ چې د ستاسو د معلومات له شخصي پېژندنه ظاهروونکو اشارو به څرنګه پاک وساتي. که داسې نه وي نو کېدلای شي چې د څېړونکي نتايج ښايي تاسو په خطر کې واچوي.

د څيرونکي د فرض چې بايد هيڅ زيان وه نه رسوي څخه معنا دا ده چې د ستاسو هوساينه، وقار، او حفاظت بايد تل په نظر کې وساتل شي.

- که د څېړني د کومې پروسې په ترڅ کې تاسو ناارامه احساسوئ نو حق لرئ چې څېړونکي ته ووايئ.
- که څېړونکی په دوامداره توګه تاسو ناارامه کوي، نو تاسو حق لرئ چې کوم باوري تن ته ووايئ (لکه يوه ملګري، د کورنی غړي، د مېشت ځای کوم کارمند، د ټولنې غړي ته) او تاسو بايد د څېړونکي د اخلاقياتو هيت يعني Research Ethics Board يا REB سره رابطه وکړئ. دا خبره او معلومات بايد د رضايت په فورمه باندې ليکل شوي وي. کنه نو تاسو کولای شئ دا معلومات په انټرنټ باندې ولټوئ. ټول پوهنتونونه او روغتونونه څېړنو لپاره د اخلاقياتو هيتونه REB يا ورته کمېټياني جوړې لري.
- تاسو حق لرئ چې تاسو سره په احترام چلند وشي او په داسې ډول چلند وشي چې د ستاسو کلتوري، مذهبي، او نسلي تاريخ ته احترام ولري.



CENTRE FOR REFUGEE STUDIES
CANADIAN COUNCIL FOR REFUGEES
CONSEIL CANADIEN POUR LES RÉFUGIÉS
CARFMS/ACERMF